AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۹/۲۱

# زموږ ځنګلونه

دا مې لومړی ځل و چې چوک کې ولاړ وم او هغه هم د کارموندنې په تمه. د ایبټ آباد بازار دا چوک داسې له افغان ځوانانو ډک و؛ لکه موږ چې نورو ته د مزدورۍ لپاره نړۍ ته راغلي یوو.

ماته دا درېدل بیخي عجیبه ول. نوې ځواني وه. فکر مې کاوه ټول خلک همدا ماته را ګوري. څوک راپسې خاندي او څوک راته خپه دي.

د چوک عجیب منظر و: کومو سپینو جامو والا پنجابی به چې هسې هم راغلو؛ افغان مزدورانو کې به پټ شو .
خبره خو به هغه وخت لا پسې ګډوډه شوه چې کله به کوم کوچیني موټر بریک ونیوه. افغان مزدوران به څه له موټره تاو شول او څه به وخته ور ختلي وو، چې پنجابي به په زور او کنځلو بېرته راښکته کړل.
زه، هماغسې غلی ولاړ وم او هیڅ کار ته بو نه تللم.

مازیګر مې زړه تنګ شو، بیا له یوه ملګري سره چوک ته راغلم. شیبه وروسته، یوه باډۍ لرونکي سوزوکي راغله.
په دې کې څو شناخته کارګر ناست ول؛ موږ ته یې اشاره کړه او موږ دواړه هم ور وختلو.

موټر له ابادۍ ووت، د یوې زړې هدېرې خواته، چې په لوړې غونډۍ وه، ودرېد. موږ همدې لوړ ځای کې څادرونه هوار کړل. شاوخوا مو زاړه قبرونه ول ،چې د ونو څانګو پرې سیوري کړی و.

ماښام سو. یو یو پنجابی خپل څراغان کلي ته روان و او موږ د تیارو مساپرو ته یې په حیرت را کتلې.
موږ داسې د قبرونو خواته غلي ناست وو؛ لکه شپېلۍ چې وهل شوي وي او جسدونه له قبرونو راوتلي وي.
شپه مو له همدې هېرو شویو مړو سره وکړه او سهار د کار ځای ته ورغلو.
دا د یوه غره ډډه وه او موږ پکې په ډېر مشکل کوچیني نیالګي کرل.

ما چې په عمر کې مزدوري نه وه کړې؛ د کاري ابزارو له سمې کارونې سره بلد نه وم . د پینځو، شپږو نیالګیو له کرلو وروسته چې مې بل نیالګي ته د ځای ژورولو لپاره کولنګ وار کړ؛ یو سر یې پر غټه ډبره ولګېده او بل سر یې زما پر تندي. مغز کې مې ټنګ شو. دواړه لاسونه مې پر ټپ کېښودل او چې لیرې مې کړل؛ نو د وینو شر شو.
لکه نوي کرل شویو نیالګیو ته چې د اوبو په ځای زموږ وینه په کار وه.

کار مې پرېښود او له یو عالم مایوسیو سره راښکته شوم. هغو ټولو رهبرانو ته مې ښېراوې وکړې چې کابل کې خپلو کې یو بل ته اړم ول او ولس یې د پردیو محتاج کړی و.

***


یارانو!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له هماغه وخت راهیسې چېکله هم د خپل وطن د ځنګلونو او د خپلو تنکیو، خو بد نصیبه نښترو له وهلو خبر سم، مغز کې مې داسې ټنګ شي، لکه د ایبټ آباد غره کې چې په کولنګ لګېدلی وم. د مایوسیو په دریاب لاهو شم او ځان سره وایم:

خلکو خپل سپېره غرونه په کار او لګښتونو تک شنه کړل او موږ بدبختو خدای راکړي، شنه غرونه په سپېرو غونډیو بدل کړل.

رب دې زموږ پاتې ځنګلونه د ارو له خونکاره غاښونو او د تېرو تبرونو له ظالمانه ګوزارونو خوندي وساتي.
--
،عکسونه د ګوګل له آرشیفه
لومړی: ایبټ آباد
دویم: زموږ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ